د ژوند په لومړيو کلونو کې د کوهستان نامتولي خانزاده په يوه شپه کې د پلار سيوري، د کور غېږ، د خانزادګۍ حيثيت، هستۍ دارايۍ، ناز، نعمت او ټول هغه څه چې يو ماشوم ورپورې زړه تړلی شي، له لاسه ورکړي وو، خو په ځای يې د يو دردمند زړه حساسه طبعه او د شعر ملکه ورسره وه چې وروسته يې د استادۍ لوړ مقام ته ورساوه او دومره يې مشهور کړ چې له هنده تر قاهرې پورې يې په ادبي محافلو کې حيثيت ومنل شو.

دڅونډ په وروستۍ لسیزې کې د «نیلاب» غاړه، د «خواجه صفا لمن» د «عاشقانو عارفانو زیارت»، د استالف ننداره - خلاصه وطن، د وطن ښېرازي، دیو آن او د انسان حیثیت او د خپلې ملي جنډې سپېڅلې له لاسه ورکړه، داغمونه داسې غمونه نه وو چې زغملی شوي وای. داغمونه دومره ستر او دا مصیبت دومره عظیم و، چې استاد یې هغسې ساندې وویلې چې بیا به کله چا نه وي ویلې.

که څه هم د استاد ټول آثار استادانه دي د هنر په ټوله پوره خوږې خو د غربت د دورې شعرونه یې له دې امله چې د ډېر عظیمې فاجعې عکاسي کوي طبعًا ډېر موثر او ډېر مهم دي، چې هر بیت یې ټولو یقین به دې وشي چې د افغانستان د لوېشت لوېشت ځمکې او فرد-فرد غمونه، دردونه او رباندې راغلې مصیبتونه یې په پوره توګه درک کړي او انځور کړي دي.

زمانه ډېره ګواښې چې د استاد له دغو سوځنده شعرونو چې څه ما محسوس کړي دي په هغو وغږېږم خو له یوې خوا د استاد هر بیت اثر بخښونکی دی له بلې خوا د حضرت مولوي معنوي په قول نه «ګنګ خواب دیده»، یم او یو ګنګ به له خپلو محسوساتو او مکنوناتو څه وویلای شي؟

استاد په خپلو نظمونو کې د یو مظلوم او په وینو کې غرق اولس وینډوی دی، د یو سوي بې او نه بدلې هېواد د حال احوال ښکارندوی دی، د بې شمېره بوروړو، ورارو، کونډو - رنډو د سویو زړونو-

فریاد رسان دی، د لکونو یتیمانو د اوښکو او سېلو مفسر دی، د سرو سوو پرهرونو له سویو څخه یو غږ بدل، د لوټو مینو، نړېدلو کېږدیو او میرات شویو او دړبلونو انګړونو د هرچا کارنه دی. د استاد تند احساس، لوړ خیال، پراخ نظر او نازک ذهن یې — تصویرولای شي.

د بې وطنۍ په درد هغه څوک غږ بدلای شي چې د وطن مینه ولري او د آزاد وطن په قدر و قیمت پوهېږي. استاد که په سفارت کې وي، که په غربت کې، که د «دجلې» په غاړه وي که «مدیترانې» په ساحل کې، که په پېښور یا اسلام آباد کې وي که د «سپین ماڅه» سیورې ته، که د مهاجرو د خېمه کمپ په منځ کې که د «آزادۍ د مجسمې» — خواته ... هرځای یې خپل وطن او د خپل وطن په فراق کې د خپل وطن غمونه ژړلي دي، دوی ته حتی د طوبیٰ تر سیورې هم د خپل آبائي وطن د ولې سیوری ښه ښکارېدو او سا یې ورته ورباندې جوړ بده، لکه چې وایي:

هرگز ننمایم هوس سایهٔ طوبیٰ
تا یاد کنم سایهٔ بید پدری را
گرچه دورم از دیار خویشتن
در خیالش زندگانی می‌کنم

کله چې د ثور خونړۍ کودتا په وطن اور بل کړ او د خدای ج د لارې خلکو ته یې د پاڅېدو امکانات له منځه تلل، استاد په

بغداد کې د افغانستان سفير ؤ، اندېښنو واخيست، فکر يې وکړ
چې:

کنون چه چاره که بر روى آن زمين خدا
براى عرض دعا جاى جبهه سائى نيست

سفارت ته يې شا کړه او آواره ګۍ ته مخه، ځکه د بې وطنه آواره له پاره
د خداى په ارت جهان کې ځاى چېرته دى؟ وايي:

ګر بر زمين نهم سر کو ګوشهٔ فراغى
ور بر فلک ګريزم اسباب نردبان کو؟

حساس شاعر هغه بې روحه او بې حسه بنيادم نه وي چې ژوند
د روزۍ له پاره غواړي او چې چېرته يې سبا وي، هلته يې شپه وي
بلکه عزت، آبرو او د زړه سکون غواړي چې دا د نورو په غلامۍ
يا په بې هويتۍ او بې وطنۍ کې نه ميسرېږي. له استاد سره مينه
وه معنويت ؤ، ارمانونه يې لرل او د افتخار ژوند يې غوښت. ځکه
نو وايي چې:

دل من، مأمن من، عشق وطن خانهٔ من
نيستم مرغ که در هر چمنى لانه کنم

دلويو غرونو بان او د هسکو څوکو په ناسته روږدي عقاب
هميشه خپله نشيمنګاه غواړي په هره ونه او هره څانګه ځاله نشي
جوړولاى، څلور کنجه دنيا يې وکتله خو زړه يې هيچېرته هم
نه کېناست، د هندوکش د غرونو څوکې يې تر زړه ختلې وې —

يو ځای يې هم آرام نشو موندلای،

عقاب قله نشين د يار خويشتنم

به لانهٔ که نشينم؟ به کوهسار که نالم؟

نړ ښت له يوې خوا، نارو غي له بلې خوا او دې د پسې

اوبې وطنۍ غمونه، حسرتونه له بله طرفه د استاد نړه او

ور سولول او صبر او استقامت يې و ښخه تو بزل چې وايي:

مرا مصائب پيری و درد بی وطنی

نمود ميخ به سان چراغ ديواری

چراغ گفتم اما چراغ بی نوری

که مدتيست شد از صرصر ستم تاری

بل ځای وايي:

خدايا پيری و آوارگی درد دگر دارد

که مرغ آشيان گم کرده وقت شام می لرزد

ديو دوست په خوب کې چې دد وی حال يې پوښتلی ؤ دسوی

نړه له سره تفوره بر عولی او چتوي او داسې لمبې ترې راباسي:

از من آواره پرسيدی که من در چيستم

زين سوال ناموجه روزها بگريستم

حسرتم، داغم، غمم، خون و سرشکم ماتمم

غير از اين نامی نمی يابم که گويم کيستم؟

کشورم در اشک و خون، من لاف هستی اید ریغ

دوستان من نیستم، من نیستم، من نیستم

کله کله په استاد باندې داغم دومره غلبه کوي چې د اظهار له پاره یې جملې او کلمې غیر کافي ګڼي، اوښکې ورته سرې ښکارې او په خپل فریاد کې هغومره زور نه وینې چې لا زر یې بولي، په خپله روانه طبعه او رسا بیان دا باور نه لري چې د ده د زړه درد دونه به بیان کړای شي، له بلې شمعې څخه د شمعې ژبه غواړي چې زاره په ژبه فریاد وکړي او ناله یې لکه د شمعې لمبه نوره هم سوځونکې وي:

ای شمع به شبهای غم از گریه چه حاصل

بگذار بنالم بسوز بالی که تو داری

استاد په خپلو نظمونو کې د شهیدانو، مظلومانو، کونډو، رنځورو بوډو، ورانو د سوېو زړونو فریاد ونه رانغښتي دي، د وطن بربادي او د وروڼو وحشیانه قتل عامونو د استانونو تماشاره کوي، دوه کو، بې وطنو له پردېسانه غږېږي، د اوښکو او وینو په تالاوونو کې د پښتو حسرتونو قلمبرداري کوي، د نمونې په توګه یې صرف دا څو بیته له یوې اوږدې منظومې څخه راخلم:

جهان تاریخ ما را چون نگارد یقین دارم به اشک و خون نگارد
سراسر خاک ما را خون گرفته شهیدان قبا گلگون گرفته
نیابد کس درین کهسار یک سنگ که از خون عزیزی نیست گل رنگ
نبیند کس درین کشور زمینی که تر نبود بخاک نان نینی

نبيند کس درين کشور سرائی — که از ماتم در آن نبود صدائی
درين گلزار گلبرگ تری نيست — که تر با اشک چشم ختری نيست
هر آن بادی که ميخيزد سحرگاه — بمرگ بی گناهانست همرا
صدائی گر برآرد مرغ شبگير — نباشد جز صدای بند و زنجير
از آن رود خروشان کف آلود — بجای موج خيزد آتش و دود
اگر گوشی نهد کس بر در و بام — فغان بوم مرگ آيد بهر شام
ز ابر ما نمی بارد بجز سم — ز خاک ما نمی رويد بجز غم
و . . . .

وير وله او مصيبتونه لکه وينه زړو نه خوړي او تاب او توان له مينځه وړي، غم چې په سړي وغمېږي وينې وچوي، زړه مړاوی کوي، روح وژني او او ښکو ته د بڼو پر سر د حرکت توان نه ور پرېږدي. استاد د هغه حال داسې ژاړي:

در رگم خون، در برم دل، در تنم جان مرده است
وای بر من طفل، اشک من به مژگان مرده است

تيره روزی های ما پايان ندارد ای دريغ
در سپهر ما مگر خورشيد تابان مرده است

جای لاله خون دمد در کوه و صحرای وطن
آه! پنداری چراغ شاهمردان مرده است

استاد له خپلو ملي افتخاراتو سره ډېره مینه لرله، تر دې حده چې په دومره عظیم مصیبت کې هم هغه ویاړونه او افتخارات نه هېروي، وطن یې د ویاړنو ځای دی، د وطن په دره-دره او منزل-منزل کې د تېرو افتخاراتو نښانې ویني، نه غواړي چې حتی په میهنه هم د ویاړونو له کشوره بهر او له خپلو تاریخي افتخاراتو بېل وي. په یو سپېڅلي نظم کې چې په سوچه فارسي یې ویلی دی په ویاړمنه لهجه او متینه ژبه داسې وایي:

میهن این د انمن اگر جان ستاند — در آن کشور راد مردان ستاند
در آنجا ستاند که زادم ز مادر — در آن زادگاه بزرگان ستاند
در آنجا که ستوار کوه بلندش — گروگان ز خورشید تابان ستاند
درخت کش شاخ گردون شکافش — کلاه بزرگی ز کیوان ستاند
در آنجا که جنگنده مرد دلیرش — ز جنگاوران خود و خفتان ستاند
به توفنده دریا ز کام نهنگش — سر پنجهٔ خشم دندان ستاند
ز چنگال شاهین به نیروی بازو — دل گرم خونین مرغان ستاند
در آنجا ستاند که یکتا پرستان — سر از پیکر بی‌خدایان ستاند

دیوې اوازه سنځې له خولې داسې وایي:

من دختر عقابم و فرزند کوهسار — مادر مرا بخوابگه شیر زاده است
از بوسه‌گاه چشمهٔ خورشید داده شیر — در جرقه‌های تابش شمشیر داده است

پس د دومره علاقه بر سېره چې استاد یې له خپل گران وطن سره لري خو چې کله په اواره گۍ کې د وطن مصیبت بار حال ته گوري او د خپل-

اولس له بده مرغه څخه خبر یږي، او ریږي چې د وطن دره - دره د بېګناهو وینو نهرونه په پاکو وینو څپو بهېږي او ګټه: ګټه یې دده د تورياليو عزيزانو په وينو سرې دي، وصيت کوي چې ما په وطن کې مه ښخوئ، زما د ښخولو د پاره د وطن دردمند او پرهر ځلی زړه مه څیروئ، وطن مې سخت رنځور دی، په زړه یې د ټپ پرهرونه دي، په پرهرونو یې مالګه دومره ماسوړئ او زما له کبله یې په ستړي زړه بل پېټی مه وراچوئ:

چون به غربت خواهد از من پیک جانان جان گرفت
جا دهیدم در کنار تربت آوارگان
گور من در پهلوی آوارگان بهتر کنید
بیکسم، آواره ام، بی میهنم بی خانمان
همچو من این جا بگورستان غربت خفته است
بس جوان بی وطن، بس پیر مرد ناتوان
کشور من سخت بیمار است آزارش مده
زخمها دارد نمک بر زخم آن کمتر فشان
از برای مدفن من سینهٔ پاکش مدر
بهر من بر خاطر زارش منه بار گران
داغها دارد دمنه بر سینه اش داغ دگر
درد ها دارد دگر بر پیکرش خنجر مران

ملک یزدان است هرجا باز تابد آفتاب
شهر انسان است هرجا جلوه دارد آسمان
رقص رقصان از لحد خیزم اگر آرد کسی
مشت خاری از دیار من برسم ارمغان
ای وطنداران مبارک پی اگر اینجا رسی
جز خدا و جز وطن حرفی میاور بر زبان

استاد دخپلو تش لاسو، بې وزلو او محرومو خلکو په په توره مېړانه او سر سبندنه هم ډېر مباهات کوي

نازم آن برهنه پارا که بدشمن فهماند
ملت بُت شکن در دل کهساری هست

* * *

سپاه ملت افغان سپاه رحمن است | سپاه رحمن بر فوج کفر گردد چیر
سپاه ملت افغان سپاه آزادی است | که پنجه کرده فرو در گلوی دیو شریر
سپاه برهنه پای که در سراسر عمر | نموده تر به سفالینه جام نان شعیر
بجای بالش سر بر نهاده بر سر سنگ | بجای بستر پهلو نهاده روی حصیر
کنون نگر که زده صف میان آتش و خون | به جنگ دشمن اهریمن جهان تسخیر
این سپاه بی سلاح برهنه پای دلیر | این شهان بی کله، فرماندهان بی سریر
جنگجویان دلاور، ما دران شیر گیر | نوجوانان وطن، این قوم ذلت ناپذیر

ايها الارض به خون خويشتن بازی ميکند
پيش تاريخ ملل گردن فرازی ميکند

* * *

بالاخره استاد په غربت کې د وطن د آزادۍ ارمان له ځانه سره يوړ او د ورکوبې وطنو په خوا کې ، د خپلو شهيدانو په څنگ کې خاورو ته وسپارل شو، د خوشحال بابا په دې توصيې:

هديره يې د شهيد په څنگ کې بويه
هر سړي چې مر په توره د بېلتون شه

روح يې ښاد او نوم يې تل پاتې غواړم .

څوک بریالي شول؟

دا هغه غږ ؤ چې په تېره ترورنمې کې د سپین ږیری عثمان له خولې ووت، خو سیاره چې په تیاره کې نه لیدل کېده، څه ځواب ورنکړ او ځنې تېر شو. ده غوښتل چې بیا پرې غږ وکړي مگر یوې مجهولې ارادې یې مخ بېرته د مغرب لور ته واړاوه.

په مغرب کې پوره څلور ساعته کېدل چې لمر غروب کړی ؤ او د لمر له غروب سره د توپو درباهم غلې شوې وه. عثمان اکا ته جنگ تمام شوے معلومېده، هغه له کلې بهرولاش شویو هندوانو په پالېز کې سمک ته ـ ورځېرمه د مجاهدینو دراستېدو په تمه ولاړ ؤ. شپه ډېره خاموشه ـ وه. هغه فکر کاوه چې نور کلیوال په درانه خوب ویده دي. د هغوی بې پروایی ته په قهر ؤ. علاوه په قهرېدو نه په ته یو مبهم غم هم لاره کړې وه.

عثمان اکا یو نیم ساعت کېده چې ولاړ ؤ، خو نیې ملا وچه شوې وه او نه یې په پښو درد شوی ؤ. هغه داسې احساس کاوه چې د بدن ټولې ذرې یې له غاړیانو سره یو شوې دي. داسې اجتماعیت ده صرف د شباب په عمر کې څو شپېته کاله پخوا له انگرېزانو سره په غزا کې محسوس ـ

کړی و.

دی لا همدارنګه په تور شپه کې ولاړ و چې د آس شنا یې ترغوږ شوه. چې د آس شنار انګ دعې شوه، پر لوړ آواز یې وویل: څوک بریالي شول؟ خو دا ځل هم د ده پوښتنې ته چا ځواب ورنکړ. ده په پوره هنده غږ بیا خپل سوال تکرار کړ خو سپاره لکه څه چې یې نه وي اورېدلي، خپل منزله ته ادامه ورکړه او پرې تېر شو.

د عثمان خان پښې وېوېرېدې، زړه یې ودرېده، له ځان سره یې کلمه وویله په پټي کې کېښناست او داسې یې محسوس کړه چې د تعلې دنیا په تیارو کې لاهو شو. ده ته په دې حال کې د څو شپېته کاله پخوا هغه لمحه وریاده شوه چې د یوازیني ورور په مړي ورپرېوت او مخکې له دې چې ځان بایلي د یوه پیاوړي لاس او ډاډه آواز څښتن له مټه ونیو او غږ یې ورباندې وکړ چې: بچیه! زما زوی خو په ننګ مړ دی، بې ننګ مېړه خو ترتله ژوندی وي!

د ورور یاد د ده سترګو ته یوازینی زوی ودراوه، مګر لاحول یې کړه، راولاړ شو او کوښښ یې وکړ چې د تېرو لحظو غوندې خپله روحیه بیا پیاوړې کړي.

شېبه نیمه وروسته د شپې سکوت بیا د آسونو شناماټ کړ د ده زړه وغوښتل چې د خپل عبدالغني پوښتنه وکړي خو ارادې برته-

هغه ته د ټولو سوال په خوله وروست، ویې ویل: بچو!
څوک بریالي شول؟

د سړو له منځه یوه اشنا غږ تر سلام اچولو وروسته ځواب ورکړ چې: موږ بریالي شوو!

د عثمان اکا په زړه کې د امید رڼا وځلېده او د دې له پاره چې تېر شکونه له ذهنه ژر تر ژره وباسي، نو سمدستي یې پسې دا پوښتنه وکړه: آخر تاسو ولې داسې غلي او-جدا-جدا راروان یاست؟

هغه آشنا غږ له څه ځنډه وروسته داسې واورېدل شو: عثمان اکا نور خیر خیریت دی، هسې مجاهدین د غنیمت په مال لږ څه خوابدي غوندې شول نو ځکه... عثمان اکا په تېرشو خبره یې ورغوږ کړه، ویې ویل: نو روسان ولې بریالي شول؟

سواره غلي شول او ده بیا وروسته د خپل عبدالغني پوښتنه ځني وکړه. هغه اشنا غږ ورته وویل چې هغه له قوماندان سره راروان دی، وروسته به راشي، ته به اوس له ما سره په آس سپور شې چې کلي ته دې ورسوم.

عثمان اکا د هغه غږ پوښتنې ته اعتنا ونه کړه، هغه په غصه وویل یې چې تاسې زموږ د امید سترګې یاست، زموږ ټولو زړونه په تاسو تکیه دي او ستاسو حال دا دی چې وروسته له دري شوا روزه غزا په خپل منځ کې سره خورئ، نو زه به تر هغه پورې دلته-

ولاړ يم چې قوماندان راشي او ترګرېوان يې ونيسم .

ټولو سپرو ورته منت زارۍ شروع کړې چې اکا راځه دا خبرې سحر هم سپينولى شي ، مګر اکا ورسره نه منله . شيبه په شيبه يې قهر زياتېده .

دوى لا الحمدلله ولاړ وو چې له لرې د قوماندان غږ واورېدل شو ، عثمان اکا غږ ورباندې وکړ چې : قوماندان يې ؟ هغه مثبت ځواب ورکړ . ده له قهر او ښخواله په ډکه لهجه وپوښت چې څوك بريالي شول ! ؟

قوماندان په ژبه بدلې او ژمغولې غږ ورته وويل چې : اکا ! دښمن بريالى شو . فتح او نصرت هرڅه د خداى ج له خوا دي او . . . اکا د قوماندان د خبرې په منځ کې ور ولوېده وېې ويل : شيطاني کاروکه په خداى ج پورې مه تړئ ، چې په خپل منځ کې په پيسو او سلو شخړې کوئ ، نو بيا د خداى پاك نوم مه اخلئ ، بيا شيطان ياد وئ . . . عثمان اکا ورو وسته له هغه چې زړه يې سبه تش کړ ، د عبدالغني پوښتنه وکړه . قوماندان ورته وويل : هغه به وروسته راشي . ته له ماس په آس سپور شه چې کلي ته ځان ورسوه .

د عثمان اکا په قهر ، غم او اندېښنې غلبه وموندله . له قوماندان سره په آس په سپور شو ، په لاره خاموشه وو ، خو چې کله د کلي ترا لنډه شو او هلته يې بلځرا غونډه وليدل ، نو قوماندان

تېرې ، لکه پوښتنه چې څنګه کوې ، وویل : هغه لکه چې نښته !

قوماندان څه ونه ویل او خوشبې وروسته چې جنازه په جومات را ننوتله نو د قوماندان په سترګو اوښکې راماتې شوې او له خولې یې ووتل چې :

« د دښمن په زړه ووهلو » !

خو عثمان اکا ځان ډېر پیاوړی محسوس کړ او یه چا ډېر غږ یې وویل :

زه په هغه مه ژاړئ ، هغه بریالی شو !

چوب خط یادگاری

قربان شام ها که بخانه برمیگشت همه خستگی های روز یکباره از یادش میرفت . او خورشید را تازه نکاح کرده بود ، چیزی کم یکسال می گذشت که خوشدار خورشید شده بود . اولین بار او را در نانبایی دیده بود . قربان شاگرد خلیفه کاظم بود ، صبح ها زود می آمد و پشت تخته نانبایی می نشست ، وقتی خلیفه کاظم نان ها را با سیخ از تندور میکشید و روی تخته می انداخت قربان آنها را از روی تخته میگرفت و میگذاشت پیش رویش چند دقیقه صبر میکرد آن وقت نانها را روی همدیگر میگذاشت. اگر مشتریان حاضر میبودند زود-زود نانها را از روی تخته برداشته پیش روی آنها می ماند و پول را از آنها میگرفت و در صندقچه کوچک و چرکی که جلویش قرار داشت می انداخت.

خورشید صبح ها خمیر را برای پختن می آورد و میگذاشت وخودش پس میرفت . بعد از یک ساعت می آمد و چوب خط را هم با خود می آورد . قربان چوب خط را از وی میگرفت و بر-

تعداد زغاله ها با چاقوی کلان و بد قواره که داشت روی آن خط میکشید. این کار آنقدر تکرار شده بود که دیگر روی چوب خط جایی برای خط تازه نمانده بود، باز هم خورشید همین چوب خط را می آورد و قربان هم با دقت جایی در کنج وکنار آن پیدا میکرد و با چاقو خط میکشید و وقتی سرش را از روی چوب خط بر میداشت بی اعتنا و با شتاب به مشتریان دیگر می پرداخت، تا یک روز پس از آنکه قربان نانها را داغ ـ داغ از تخته برداشت و بروی شکر گذاشت، خواست چوب خط را از دست خورشید بگیرد و در همین حال نگاهش به چشمان خورشید افتاد. لحظه کوتاهی بهم نگاه کردند. خورشید سرخ شد و سرش را پایین انداخت. یک چیزی در دل قربان گذشت، نفسش بیشماره افتاد و دستهایش لرزید. آن روز وقتی خورشید شگرنان را برداشت ورفت، قربان لحظه ای به او فکر کرد، به خورشید فکر کرد که گونه های رنگی اش مثل شگوفه شفتالو بود، به چشم های سیاهش که به قیر می ماند، با خود میگفت: خدا کند خلیفه کاظم نه دیده باشه.

خلیفه کاظم از چشم سفیدی و بیحیایی بسیار بدش می آمد. برادر زاده اش شیرجان را بخاطر همین چشم سفیدی و بیحیایی بمرگ لت کرده بود، او قربان را مثل اولاد خود میدانست. اما همیشه میگفت که بر اولاد مسلمان مرگ از ی بهتر اس که بر خواهر

و مادر کس بچشم بد ببینه.

روز های دیگر وقتی خورشید خمیر را می آورد، قربان براسانی جرئت نمیکرد که دست دراز کند و چوب خط از دستش بگیرد، دستش به لرزه می افتاد فکر میکرد خلیفه کاظم و مشتریان همه او خیره شده اند و خورشید هم نگاهش را تا آخر از زمین بر نمی داشت. دلش میخواست به قربان نگاه کند اما خجالت میکشید. شگر را برمیداشت و زود زود میرفت طرف خانه، و قربان هم جرئت نمیکرد که از پشت او نگاه کند، یک روز از پشت خورشید نگاه کرد، دید که خورشید شگر را بازحمت می برد اما باز هم استوار ومقبول راه میرفت را رفتنش به راه رفتن کبک خلیفه حیدر سماوارچی می ماند. دل قربان زیر وروی شد باعجله رویش را دور داد. دید که خیرمحمد باریشخند به طرفش میبیند، دلش میخواست نیم-خشتی را از پهلوی تندور بگیرد و به فرق سر خیرمحمد بزند. او همیشه از خیرمحمد بدش می آمد. خیر وی قولته بچه محسن بوده پار سال بخاطر یک صدی بچه کربلائی خدا داد را تا ماموریت پولیس برد.

روزها همین طور می آمدند و میرفتند، زندگی پر مشقت و تلاش بود. اما قربان از کار و مشقت بدش نمی آمد. او فرزند رنج و تلاش بود. با چیزی غیر ازین خو نکرده بود. زندگی-

بد بختی گذشت با همه سختی ومشکلش. قربان می‌تانست برای خود ومادر پیر وخواهرش یک لقمه نان تر وخشک پیدا کند. گاهی هم پول پس انداز میکرد وپنجاه روپیه وصد روپیه به برادرش حسین علی که در بدخشان عسکر بود روان میکرد. کرای خانه نمیداد، در خانهٔ یک نورن همسایه نشسته بودند، مادر قربان روزها در خانه نورن کار میکرد، رخت می شست، جارو میکرد، وگاهی هم بچه خرد نورن راسر پای میگرفت. در خانه نورن اورا ننه سکینه می گفتند.

یک شب قربان چرت نشسته بود و به یک نقطهٔ گلیم کهنه ای که زیر پایش بود نگاه میکرد، خواهرش خوابیده بود، قربان چرت می زد. به زندگی فکر میکرد، به کارهایش، به خلیفه کاظم به آن خیروی بچه محسن پوده وبیشتر از همه به خورشید که رویش به آسنار می ماند. چقدر دلش میخواست پیسه میداشت ویکدست کالای گل گلی برای خورشید می خرید. دلش میخواست همه کالاهای خوب دنیا ره خورشید بپوشه. یکبار سرخود را بلند کرد وگفت: ننه!

ننه سکینه آهسته تار را با دندانش برید وگفت: چه میگی قربان؟ وقربان هیچ نگفت، ننه سکینه هم دیگه نپرسید. باز قربان به چرت رفت وبیک نقطه از گلیم چشم دوخت. این بار پیرزن خیره به او نگاه کرد وگفت: چه شده قربان چرا چرت میزنی؟

قربان پرسید : ننه یک دختر است که هر روز خمیر می‌آره به نانبایی تو میشناسیش ؟ از کوچه بالا می آیه تو میشناسیش ؟ پیرزن خنده‌ٔ کرد و برق در چشمش درخشید و گفت : چه رنگی است قربان ؟

قربان نشانی های گفت که پیرزن را بخنده می انداخت تا آنکه دفعتًا با خوشحالی صدا زد :

شناختمش- شناختمش ، دختر گلثومه میگی گلثوم که دحمام زنانه کیسه مال است. ده کوچه بالامی شینن.

پیرزن از کشف خودش خوشش آمده بود . از فردا صبح استین برزد وخودش را به کوچه بالا رساند. هر وقت هم که بیکار میشد به حمام سر می زد و مادر خورشید را درکیسه مالی و شستن اتاقهای نمرهٔ زنانه کمک میکرد . خورشید راکه میدید نام خدا میگفت و باچشم خریداری باو نگاه میکرد . وقتی خانه می آمد ، دروازهٔ کلبه محقرش را از درون می بست و میرفت - بقچه را از تاق پائین میکرد ، از زیر بقچه یک دستمال را که کور گره شده بود با دندانش می کشود . میان آن یک پوری کاغذ بود و دو لاپوری را باتار پیچانده بود . پیرزن تار را بادقت از دور پوری باز میکرد و پوری را میکشود و با سه تا نوت پنجصدی و انگشتری عقیق و زیر گوشی نقره ای خیره میشد. ولبان چین خورده اش را بار ضایت تمام می کشود . خورشید پیش چشمش

ظاهر میشد با لباس سبز نکاح و قربان با پیراهن و تنبان نو و دستمال گل سیب. همینکه شرفهٔ پای به گوشش میرسید، زن توری اورا صدا میزد، با عجله پوری و دستمال هارا دوباره می بست و بزیر بقچه میگذاشت.

ماه ها گذشت و ننه سکینه ستوردار شده بود. جهیزیه خورشید یک لگن مسی بود و دوتا پیراهن گلدار و یکی دو چین کم بهای دیگر همراه بالین ها یک چیز دیگر هم بود که خورشید آنرا بین تکه اطلس کوچکی پیچانده وان اولین روز آمدنش بخانهٔ قربان با خود آورده و در روی طاق گذاشته بود. ننه سکینه به امید آنکه تا چند ماه دیگر اولین نواسه او بدنیا می آید از خوشی در پیراهن نمی گنجید. زندگی در چشم قربان نیز رنگین تر شده بود. شام ها که با خلیفه کاظم خداحافظی میکرد و با خود نان و انگور میگرفت، بخانه می آمد دل از شادی در برش می تپید.

زندگی چقدر خوب است. خورشید مثل بهار خوش آب و رنگ و مهربان است، خلیفه کاظم مثل پدر است. ننه هم بسیار دوست داشتنی است.

گاهی دلش میخواست دست های پینه بسته و پرچین ننه را ماچ کند اما ننه ازین کار خوشش نمی آمد و اورا دور میزد خورشید غش - غش خند میکرد.

در یک روز بهاری قربان مثل همیشه در دکهٔ نانبائی نشسته -

بود. دفعتاً صدای بد هیبت بگوشش رسید. بدنبال آن صدا، صدا های دیگر، فریاد تانک ها و توپ ها و تفنگ ها. همه به یکدیگر حیران - حیران نگاه می کردند. در دوکان نانبائی نگاه های پرسش امیز بروی خلیفه کاظم دوخته شده بود، خلیفه کاظم با کنجکاوی و ترس به شلیک گلوله ها گوش میداد در حالیکه با دستش بنقطهٔ اشاره میکرد، گفت:

خدا خیر کنه، مثلی که طرف ارگ چیزی گپ اس.

عصر همان روز همه میدانستند که چه روی داده است. قربان نمی دانست چه بگوید، فقط حیران مانده بود. اما خلیفه کاظم هر دقیقه سرش را تکان میداد و می گفت: ای دنیای غدار! ای دنیای غدار!

در همان روز ها یک روز اول صبح که خلیفه کاظم میخواست نانبائی را باز کند، قربان به او نزدیک شد و پس از سلام با هیجان و حیرت گفت: خلیفه کاظم! خلیفه جان! تورن صاحب خانهٔ ما دیروز دو رتبه بالا رفته، میگن جگرن شده، خلیفه کاظم سرش را تکان داد و گفت: عجب - عجب!

بتدریج زندگی با ترس و لرز و پس پس بهم امیخت. خلیفه کاظم هر روز جگرن تر بنظر میرسید ولی آرام و ساکت بود. وقتی می شنید که حکومت نو مثل دزد ها از طرف شب آدمها را از خانه های شان می برد و می کشد، دلش به شدت میگرفت و میگفت: لعنت بر ای کافر

خدا خیر مسلمانا را پیش کنه . وقتی هم با قربان تنها میشد میگفت:
کفر آمده ، بیدینی آمد ، حکومت بدست کافر افتاد ، وطن
برباد میرفت ، بازان مجاهدین گپ میزد و میگفت :
اونا بخاطر اسلام و وطن خوده قربان میکنن . اونا خو مثل خلقیها
به ناموس و مال مردم چشم ندارن . میدانی قربان اونا هیچوقت
نامردی نمیکنن ، هیچ وقت .
و قربان با شنیدن این حرفها با شور وباشوق وبا دهان باز
به خلیفه کاظم نگاه میکرد و دلش ذوق میزد . مجاهدین را
درچشم خود مجسم میکرد . گاهی خودش را بجای آنان قرار
میداد که تفنگی بر شانه دارد و بیست نفر خلقی نامرد را پیش انداخته
است ، چقدر دلش میخواست مجاهد شود .
یک شب نفرتش از خلقیها بیشتر شد ، نیمه شب بود که صدای
موتر بگوشش رسید . دانست که تورن آمده . او هر شب دیر
می آمد . وقتی دروازه را باز کرد صدای تورن را شنید ، که بلند -
بلند و باخنده و خوشحالی به کسی که همراهش بود می گفت :
امشو پس اس دیگه سی و پنج نفر شانه کشتیم . باقی مانده باشه
بر دیگه شو . تو که پس رفتی بگو مرده های شانه جمع کنن .
آن وقت تورن از کنار قربان گذشت . قربان صدای نفس کشیدنش
را و بوی نفسش را شنید ، نفسش ترش بوی میداد .
روز دیگر ماجرای شب را به خلیفه کاظم قصه کرد و خلیفه کاظم

غلیظ و غصه بر زمین نگاه کرد و دشنام داد وقتی هم قربان گفت که نفس تو رنگ ترش بوی میداد، خلیفه کاظم بروی زمین تف انداخت .

یک روز خلیفه کاظم قربان را فرستاده بود به شهر که پول قرضی اورا از حبیب الله میوه فروش سینمای پامیر بگیرد و از راه خود از مندوی دو سه جوال آرد بیارد . آن روز در جادهٔ میوند اوضاع یک قسم دیگر بود ، مردم میگفتن که ضد حکومت خیستن . قربان نمی دانست که کی این کار را کرده اما خوشش آمده بود . - با خودش میگفت : خدا کنه که دوکان خلیفه باز باشه . اما هنوز به سینمای پامیر نرسیده بود که دید مردم هر سو میدوند او ایستاد و نمیدانست چه کند . در همین حال دو نفر بروی بطرف او آمدند . در دستهای شان تفنگچه بود . چند نفر دیگر هم بدنبال شان بودند ، ناگهان همه آنها دور قربان را گرفتند و با مشت و لگد زده - زده او را بطرف موتر بردند . زبان قربان بند آمده بود . هنوز بخود نیامده بود که او را بدرون موتر انداختند و قربان دید که در موتر زیر پای و سینهٔ او کسان دیگری افتاده است . سه نفر ضابط مسلح روی چوکی نشسته بودند و کسانی مثل قربان بروی موتر بالای سر و پای و شانه و شکم همدیگر افتاده بودند . موتر حرکت کرد ، گوئی منتظر رسیدن قربان بود . در راه هرکس که تکان میخورد ضابط ها محکم با لگد او را -

می زدند . اگر حرکت موش هم کسی را تکان میداد ، ضابط ها او را
می زدند . گاهی بخاطر کسی که تکان خورده بود نفرهای دور
و بر او نیز میزدند . دشنام هم میدادند . دشنام های مادر و پدر
و دشنام های دیگر . کفر هم میگفتند .

شام آن روز خورشید و ننه سکینه چشم براه نشسته بودند. زن
نورزن ترسیده بود و صدای رادیو را بلند کرده بود که بداند
چه گپ شده ، تا آنکه رادیو یک چیز هائی گفت و زن نورزن
خوشحال شد ، که خوب شد خارجی ها را دستگیر کردند . ننه
سکینه هم که از نآمدن قربان پریشان شده بود کمی از پریشانی
اش کاسته شد . پیش خود شکر کرد که قربان خارجی نیست .

آنشب قربان برنگشت و شب های دیگر هم برنگشت . خورشید
و ننه سکینه اشک ریزان پیش خلیفه کاظم رفتند ، اما کاری
از دست او هم ساخته نبود .

ننه پیش زن نورزن گریه کرد و پا های او را گرفت که اگر
نورزن صاحب یک کاری کند . اما روزی دیگر شنید که نورزن
میگفت :

- هیچکس نمی تانه که از بین صدها نفر خاین و وطن فروش
قربانه پیدا کنه .

و خورشید به انتظار گنگ و ناامیدانه نشست . هفته ها و ماه ها
گذشت و قربان نیامد . یک روز رفت و همان پارچه اطلسی —

پیچانده شده را از روی طاق گرفت و آهسته آهسته در حالی که نگاهش از عشق وغصه مالامال بود بازش کرد. لحظهٔ به آن نگاه کرد ولی اشک جلو نگاهش را گرفت. سرش راخم کرد و به چوب خطی که همه جایش پر از خط بود لبان خود را مالید و در حالی که گریه مجالش نمیداد زیر لب گفت: «دلشان آتش بگیره، خانه شانه خدا خراب کنه».

از آن پس دیگر تنها مونس دل خورشید همین چوب خط یادگاری بود.

د ارمانونو خزان

د قلم دین بېچاره پر حال به د چا زړه نه سو ځېږدو !
وچ کلک هډوکی، د بدن سپېره پمن پوست، څوکه ؤ دوه تاره
ږیره، تک تور، چاودلي - چاودلي شونډان، زېړه نښتلي
جوسه او ورسره د خوارۍ او غریبۍ سپېرې - دوړې چې د قلم دین
بېچاره مخ او خټې یې پټ کړي ؤ .

د هغه خوارۍ په ژوندکې تر اوسه پورې د رڼا کومې څړیکې
غږونه نه وه کړې !

د خوشبختۍ او خوشحالۍ حاصلول خو د خوارانو اکبر قلم دین
له پاره مرغۍ شیدې وې چې حاصلول یې د رستم د هفت خوان په
کیسه بدله شوې وه .

د قلم دین په ټول ځلوېښت کلن ژوندکې د هغه د پنځه ویشتو-
افغانیو تو رابي چموټان په خارجي کلوشو بدل نه شول .

ده خوار له ډېر وخته را هیسې دیوې جوړې کلوشو آرمان
په زړه کې ساتلی ؤ، خو پوره یې نه کړ.

قلم دین دا اته کاله پر له پسې هندوستان ته د ژمي پر وخت-

د خټو خوارغره او مزدورۍ له پاره مسافر کېدو، خو چې راتو به نو فقط دوه مره به یې له ځان سره راوړل چې د غمونو د رسد پوره کړي به د هغه ځلوېښتو خولو او لادونو وخښل او بیا به قلم دین دوه ورابري بوتکه، یوه د دهقانانو بیلچه او یوه د غربت او ناداری سپېره بخت سره یوځای شول.

ما چې به د قلم دین بېچاره سپېره مخ، د غم په کاسه کې ننوتلو ورو ورو سترګو، لندې شونډو او خوشکو ږیرې ته وکتل، نو سخت به مې زړه ودرزېده بد شو. له خواشینۍ ځنې به مې په چنغړک کې ساه راغوټه شوه، پر زړه به مې ویرانې راپرېوته، لکه پیریان چې مې ونیسي، زړه د به مې واخیست، خوله لړ ځو سوځ او فکر ځنې وروسته به د غم دقیقو - ورو ورو بیا د مستقبل تصور زما پر ذهن او خیال باندې د امید و نوې ګلونه را وروول.

چې د قلم دین ځلورو وړو بچیانو ته مې ترسترګو شول، نو د کلیوالو د غه عامیانه سندرې به را په یاد شوې چې:

تښتي به هالته چې هلکان واخلي کوزې نیستې
نه راځې ځې نیستې
ویله دې را وچه کړه، هډونه مې توږې نیستې
نه راځې ځې نیستې

* * *

قلم دین هم په دې امید چې څلور وړه بچیان به رالوی-

شي ، د ګټې به شي . په همدې اُمید او طمع یې د خوارۍ د مزي ییږد
نیستۍ او ناداریو بې خونده څپې پر شا وهلې او د مستقبل د امیدونو
په رڼا پسې د ژوند پر اغېزمنه لار باندې روان و .

ده به همیش ویل چې خدای مې دې تر هغه ونه وژني ترڅو چې زمکې
د ګټنې نه شي ، زما پر آرمانونه دي چې ټول مې په اولادونو پورې
تړلي دي ؛

مرګیه ! دومره صبر وکړه !
یو مې نیستي ده بل مې ډېر دي آرمانونه

قلم دین کاکا نالوستی سړی و ، خو په ژوندکې یې
تجربه هم درلوده . هغه لکه چې خپل چاپېرل د خپل دهقاني ذهن
په صندوقچه کې بند ښکېلی و ، نو ځکه هغه به پوهېد ورځې بچیان
یې یوازې او یوازې د علم او پوهې په رڼا د مستقبل د نېکمرغیو
خوله سپړلای شي .

قلم دین خپل څلور واړه زامن په ښوونځي کې شامل کړي وو
پخپله به یې د لاسوڅو پوستونه د کره له لاسته سره ونو بل شول
خو په زامنو یې کار نه کاوه .

چا ورته ویلي وو چې زامن دې د قرآن شریف قاریان
کړه !

ده له دې خبرې سره توافق کړی و .

خو په قرآن باندې له پوهېدو سره سره يې غوښتل چې زامن يې عصري علوم هم ولولي او د قرآن د حکمونو په عملي کولو هم وپوهېږي.

قلم دين اکا به په ډېره طنزيه لهجه سره ويل چې زما له زامنو څخه به خيرات خوار نه بلکه خيرات ورکوونکي او خيرات بخښوونکي جوړېږي، زه خو يې د بل په وينو نه روزم، خو خپلې ويني پي خورم، نو زامن به مې ولې خيرات خواره اموخته کړم او يا به يې د ناوېړاو دم په شکرانه روږدي کړم، بلکه د الله تعالی سپاهيان به يې جوړوم. قرآن به لولي، پرې پوهېږي به او عملي کوي به يې. داسې نه چې قرآن به د خپلې ګېډې د ماړښت ناروا وسيله ګرځوي. زه خو ان قلم دين يم، خو ايمان مې نه دی خوار، تر هغو مې جار او صدقه کړه چې د ايمان سرمايه لري، او د خدای ج پر مخلوق يې زړه سوځي.

شپې او ورځې تېرېدې، هرې ورځې په خپله غېږه کې د حادثو لسهه لمحانه سره وړلې او راتلونکي سباوون د نورو حوادثو او پېښو انتظار کاوه.

د قلم دين زامن اوس ځوانان شوي وو.

يو يې په لسم، بل يې په نهم او دوه يې په څلورم صنف کې وو.

د ثور د کودتا له تېر کال نه و تېر شوی [illegible] ورځ چې د ښوونځي درس جريان په عادي توګه روان ؤ، د ښوونځي په انګړ کې کوم بيګاړو

جاسوس د خدای (ج)، د سپاهیانو د غضب ښکار شو، چې نا څاپه په بنوونځي باندې د بمونو باران شروع شو.

د قلم دین د ناامنو په شمول د بنوونځي (۲٦) شپږ ویشت تنه شاګردان په وینو او خاورو کې ورغړېدل او د ځوند له صحنې څخه دا بد ېت څوک شه ته وغورځېدل او د قلم دین د تلونکي پسرلي ان مانې ګلان هم تالا و الاشول او د هغه په آسمانونو خزان ګډ شو!!!

ریزه ریزه کړل د خزان سیلوګلونه
لکه ځلېدهسي رژېږي په شیبو ګلونه
یا لګېدلی پرې نظر د نمرو دی ستر ګو دی
یا خوله تندي د ادی وچ شول د میرو ګلونه

شعر او هنر
د انقلاب په
تگ لوری کی

مه پوښته نسیمه

مه پوښته نسیمه! زما د غرونو څوکې مه پوښته
ټینګې یې دردمنې دي
مه سبوړوه ولې !
د ګلبوټو څخه لرې شه !
څانګې یې خوږمنې دي

* * *

ته به د غوټیو سپېږ بدلو ته راغلې یې
ته د ارغوان ومچولو ته راغلې یې
ته د نسترن وبویولو ته راغلې یې
ته به د شاعر زړه تخنولو ته راغلې یې
نه، نه تېر وتلې یې
نه، نه غولېدلې یې
دا هغه چمن نه دی
دا هغه وطن نه دی
دا هغه ګلشن نه دی
بڼ نه دی ختن نه دی

دلته لېونتوب تو پاڼی شوی دی
دلته کې وحشت لېونی شوی دی
دلته اهریمن راپېربوتلی دی
دلته جهنم راښوکېدلی دی
دلته جنازې دي، هډېرې دي لحدونه دي
ساندې دي، مرګونه دي
هېرې دي له خلکو، که مستۍ دي که تانونه دي
اوښکې دي غمونه دي، ړوبې کنډوالې دي، لیونتوب سرې بنارونه دي
ړنې دي تو پونه دي، بم دی او اورونه دي
اور دی، دوزخونه دي، آه دی فریادونه دي
چیغې دي، وحشت دی، ورکې میندې اولادونه دي
وینې دي اورونه دي.

مه پوښته نسیمه!

مه پوښته نسیمه! زما د غرونو څوکې مه پوښته،
تېرې یې دردمنې دي
مه ښوروه ونې
له ګلبوټو څخه لرې شه!
څانګې یې خوږمنې دي

وروځه ! په قرار ځه، دغرونو په لمنو کې
خوب به دې ځانګونه شي
ستا دارغوان تر لېمه وینې څڅېدلې دي
رنګ به دې لا سونه شي
ستا دګل سرخ پر لمن وینې توکېدلي دي
ورک به دې مزلونه شي
مه ورځه نسیمه !
مه ورځه نسیمه ! دکېږ دې په لوري مه ورځه !
مرګ پکې ګرځي ...
مه غواړه شرنګې دامیلونو دپاولیو نه
ژوند پکې سوځي ...

* * *

نوري نه کېږ دي شته !
نوري نه کېږ دې شته، نه د نیمې شپې اوروڼه شته
نه سپینې سپوږمۍ ته خه دراز کیسې رمزونه شته
نه ستاهرګلي ته شنه باغونه، چمنونه شته
نه دنګو پېغلو پر نرۍ غاړه لعلونه شته
هرڅه سوځېدلي دي
هرڅه زمولېدلي دي
هرڅه ترېدلي دي

ډو بې دي د ژوند دحرکت بېړۍ
ورکې دي دځوانو آرمانو لښۍ
ماتې دي د مینې او الفت کړۍ
ورکه ده دعشق اوپیوستون نښۍ

تا ته نه کوږ به شته !

تا ته نکوږ به شته نه سلام ته څوک د رتللی شي
نه دې نسترن ته، نه غاټول ته خندیدلی شي
نه خوږ منې پښې ستا پر لمنو ښخېدلی شي
نه داماتې لیچې په اتڼکې غورځېدلی شي

مه پوښته نسیمه!

مه پوښته نسیمه زمادغرونوڅوکې مه پوښته!
تیږې یې د ږد منې دي
مه سوړوه ونې
له گلبوټو څخه لرې شه
څانگې یې خو ږمنې دي
مه پوښته نسیمه!
مه پوښته!

* * *

د استاذ خلیلي په مَرګ

بیا د «نیلاب[1]» خوله کې شوه ناړه وچه
که د پروان ګلونو رنګ بایللی
که (خدای دې نه کړي) کوم تاوده مورچل کې
وطن ساتونکو زمرو جنګ بایللی؟

* * *

د «ګل غونډۍ[2]» لمنې ستورې سنګاري
په ارغوانو باندې اور ولګېد
چې د مجنون جنازه ووتله؟
که د وطن په حُسن تور ولګېد

* * *

چې بیا «بخدي[3]» ته ته کوم «کهرم[4]» راغلی
بیا «لهراسپه[5]» په راولېدو سنګار یې
په «نوبهار» کې د مغانت له اوسنګو
د اور لمبې په سرېدو سنګار یې

* * *

چاوې: اُستاد له ژونده واړاوۀ مخ
مخ یې په خاور و په غربت کې پټ کړ
څه بد آوازۀ چې تر غوږه مې شو
دا سوی زړه یې په حسرت کې پټ کړ

* * *

چاوې: دلنډ زړه کې نوا پاتې شوه
زه وایم خدایږ و نیستان و سوځید
څنګه به واشي په زړه غوټه غوټۍ
چې د ادب باغ و بُستان و سوځید

* * *

دا حقیقت دی له «جامي» راوروسته
ؤ په «دري» کې یکه تاز خلیلي
چې د افغان په نامه ډېر نازېدو
ؤ د افغان مایه د ناز خلیلي

* * *

د خپل نیلاب له غوړځنګونو لرې
که څه خوب وړی دی ستومان خلیلي
چې یې یوۀ لحظه افغان هېر نه کړ
افغان به هېر نه کړي افغان خلیلي

د «سنايي» او «مولانا» ستاينه!
ؤحماسي روح د «خوشحال» در سره
تا چې ادب ته نوې پېنګې ورکړې
نوې نظر ؤ د «اقبال» درسره

* * *

د «شېرسرخ» بابا ملنګه څه شوې؟!
د «احمدشاه» پګړه بيا ورې غواړي
د «کوهدامن» «فرخي» چيرته لاړې؟!
د «لوى محمود» په ګور به څوک وژاړي؟

* * *

د «آزادى مجسمه» به څنګه
بيا خپل پيام «جيمي کارتر» ته لېږي؟
ديو مؤمن او درد بدلې اولس
پيغور به څوک ګوره «ازهر» ته لېږي؟

* * *

اى دانګرېزد «ورو ستى سپور» خالقه!
لا د ورې سنکارې دلېنين د سپرو
ته لاړې څوك به کړي هغسي انځور
ورو ستى سپور د کرېملين د سپرو

ماتمرا ! ماتمرا لاړې
چاته دې خپل «ماتمرا» پرېښود؟!(۱۰)
سر به له چپاسره وهي په تېږو
نيلاب دې څرنګه تنها سپر ېښود؟!

* * *

استاده! ګرم نه وې چې تلې په شنګړه
له پسرلي چې خوا پېټا لاړې
دلې وطنو به سپرلی لاڅه وي
چې په پسرلي کې له دنيا لاړې

(۱) «نيلاب» په کوهستان کې يو ځيانده رود دی چې استاد په خپلو شعرونو کې ډېر ياد کړېدی.

(۲) «ګل غونډۍ» په پروان کې يو ښکلی ځای دی چې د ارغوانو د ګل ميله هلته د بانډي لګېده.

(۳) «بخدي» د بلخ تاريخي نوم دی.

(٤) «کهرم» يو افسانوي يرغلګر چې په بلخ حمله کوي او د نوبهار د اور تون اور وژني.

(۵) «لهراسپه» د بلخ سپين ږيری باچا و چې تر وروستۍ سلګۍ يې د وطن دفاع وکړه.

(٦) د «شېر سرخ» زيارت په کندهار کې دی، د احمدشاه بابا تاجپوشۍ ته اشاره ده.

(۷) د «آزادۍ د مجسمې» له خولې استاد جيمي کارتر ته د افغانستان د اولس د دردېدلي حال په ډېره شاعرانه طريقه بيان کړی دی(۸) د استاد هغه نظم ته اشاره ده چې جامع ازهر ته يې د افغانستان د مسله د سکوت له امله ګيله کړې وه.

(۹) «آخرين سوال» هغه يو نظم دی چې د پېر نګی د لښکر يو ځيني پاتي سيوري د اکتر بريهن بېرته را رسېدلي کې اخلي شوی دی. (۱۰) «ماتمرا» د استاد د شعرونو مجموعه ده.

قصیده

دا د چا له لاسه بیا څپک ـ څپک یم؟
د فلک بېخونده لوبو ته هک پک یم

چې دوړکۍ زړه خوا هشا تو آواره کړم
که د بخت له ناکردو نه هسې ورکۍ یم؟

د ړست عالم ته اضافه لکه چې سنکار م
دا نغښي غوندې د وخت په زړه کې لک یم

نه په شرق کې شته څه رحم نه په غرب کې
«خبرداري په ښتونو یکۍ په یکۍ یم

ړانده کړي مې لېمه د غلیمانو
په جوسه کې تر پلالې پروړې سپکۍ یم

په واړه نظر مې څه ګوري غلیمه !
وړو به یم خو د ظالم زړه ته مردک یم

لکه زر چې په محک وهلې کېږي
په تاریخ کې زه د زور زیاتي محک یم

اوچت غرونه مې بې څه سرلوړي نه دي
هر ګرګین د زمانې ته زه هوتک یم

ګرباچو! د کرملین خیر دې غواړه
مغروړانو ته خالد بن برمک یم

نه یرغالم نه یرغل نه غم د نورو
حر انسان یم، نه سندان یم نه سټک یم

لټ مې مه ګڼه د نام و ننګ د پاره
په میدان کې د برېښنا غونډې چټک یم

د رباب نه یم چې دې نړۍ راباندې تش شي
لاس دې مه راوړه ظالمه ډک ټوپک یم

که لیوان په تېرو داړو باندې ویاړي
زه هم ګوره د زلمي شپانه کوتک یم

چې یې ومنې نو سل ګوزاره راکړه
په سختۍ کې د سندان ترنه هم کلک یم

الهام بخښې د سر لوړه مې دي لوړ غرو که
که فلک نه یم هم خیال خو د فلک یم

بې پروا مې په زړه لاسه مه وهه پام کړه
د خوب وړو توپاتو د زړه ګزک یم

له قرآنه مې د مینې درس اخیستی
له ایمانه په زړه سپین لکه اهک یم

چې ولاړ وم په هېواد کې مې سپین غر وم
چې روان دې کړم نو پام اټک یم

وخته نور مې په ډک زړه مه وهه ګوتې
چې د بم غوندې له اوره په زړه ډک يم

د ميوند ، کيسه مې نه ده له چا هېره
غولېدلى به ممکن په «ګندمک» يم

خپلواک زړه د لمر وړانګه کړم، ورکېدای شم
خداے دې نه کړي چې د بل د لاس کړک يم

ځوندې درست په توپانو نښتو راتېر کړي
چې بې لاس او پښو په مثل د سمک يم

سر مې نشي ټيټېدلای هسک ته هم لا
اموخته په خپله خوښه په خپل وک يم

عفوه غواړم که خبر رانه چړ پېړ يې
د فلک له ګردشونو هوش پرل يم

د هغه بابا مريد يم چې ويل يې:
«ننګيالى د زمانې خوشحال خټک يم»

دجوماتونو کردار

دجوماتو معنیٰ:

جوماتونه یعنی مسجد یا د سجدې ځای - مسجد د سجود دکلمې مشتق دی.

سجود یا سجده، یعنی د پروردګار په وړاندې د انسان بشپړه خضوع او خشوع.

سجده د مؤمنانو او د الله تعالیٰ د ولیانو له ځانګړتیاوو او خواصو څخه یوه خاصیت دی.

محمد رسول الله والذین معه اشداء علی الکفار رحماء بینهم تراهم رکعاً سجداً یبتغون فضلاً من الله و رضواناً سیماهم فی وجوههم من اثر السجود. (فتح، ایت ۲۹)

مسجد د اطاعت او خضوع - بغاوت او عصیان تر منځ یو حد فاصل دی، او جوماتونه په اصل کې د حضرت سرورکائنات فخر الموجودات محمد مصطفیٰ (ص) د مقام معراج دی.

د صدر اسلام په وخت کې مسجد الحرام د مکې د کفارو په لاس کې وو. د اسلام لوی لارښود سرور کائنات (ص) به لمونځونه

په کور، بیا بان او غزونو کې اداکول.

مدینې ته تر هجرت کولو مخکې نمونې پیشوا د قبا جومات جوړ کړ او له هغه نه وروسته یې په مدینه کې هم دیوه جومات جوړولو ته اقدام وکړ، په دغو جوماتونو کې د اسلامي ټولنې له بنسټ ایښودلو سره جوخت د اسلام لومړنی تشکیلات او تنظیمی امور هم پیل شول او په راتلونکو ورځو کې د پرمختګ او پیشرفت امکانات هم رابرسیره شول چې بالاخره د غه مبارک ځیون له مسجد الحرام څخه د بتانو د ورکولو او ټولولو سبب شو.

د جوماتونو خصوصیات:

د جوماتونو سپېڅلتوب: د جومات ځمکه او تعمیر باید بالکل پاک وي، البته پاکي او سپېڅلتوب په ظاهري او معنوي دواړو اړخونو کې.

په جوماتونو کې باید د محرابونو سمت او جهت په یوه لوري او طرف یعنې د مسجد الحرام د محراب پر لوري او طرف وي، چې دا د همآهنګۍ او برابرۍ ډېر ښه ثبوت دی.

همدا رنګه په جوماتونو کې د مسلمینو مخ یوه لوري ته ګرځول د اسلامي امّت د توحید او وحدت د ارتقاء او لوړتیا په د عالي فلسفې ثبوت دی.

جوماتونه باید ظاهراً د فالتو تزئین او نقشه کارۍ څخه عاري وي.

له همدې ځایه څخه جومات له شرک څخه لرې د اسلامي عبادت لپاره د ډېر ښه او مقدس ځای حیثیت ځانته غوره کوي.

په قرآن کریم کې د جوماتونو ذکر پر دوه ډوله شوی دی:

(۱) هغه جوماتونه چې د تقوی پر بنیا د خاص او خاص د الهی اغراضو له پاره جوړ ېږي.

(۲) هغه جوماتونه چې د ریا او دنیائي فاسدو اغراضو لپاره ودانېږي.

نو کله چې د خدای کور د فاسدو اغراضو له پاره جوړېږي مؤمن او مسلم ته لازمه ده چې داسې جوماتونو ته له ورتګ څخه ډډه وکړي او مسلم باید داسې جوماتونو ته له تګ څخه پرهیز وکړي چې د مؤمن فکر د الهی ذکر له محور څخه پر بل لوري اړوي (و اقیموا وجوهکم عند کل مسجد).

په دې توګه سره هر هغه ښجاست چې په ظاهري او معنوي شکلونو کې په جوماتونو کې الودګي او ناپاکي په وجود راولي، انسان باید پرهیز ترې وکړي.

مؤمن ته لازمه ده چې په هر حالت کې پاک او صفا وي. مؤمن ته ښایي چې له هر هغه مادي کردار او عمل څخه په شدت سره پرهیز وکړي کوم چې د مسلمان فکر او ذکر د واحد خدای له یاد څخه پر بله خوا اړوي.

په اسلام کې د جومات پرپاکه او نظافت باندې ډېر ټينګار شوى دى.

له رسول کريم (ص) څخه حديث روايت شوى دى چې: «هر هغه څوک چې د جمعې او پنجشنبې په ورځ جومات پوه ذره پاک کړي، الله تعالىٰ د هغه ګناه هوښ بخښي

(سفينة البحار، جلد (۱) ص (۶۰))

جومات د اخلاقي او فرهنګي تحريک مرکز:

که چېرته تزکيه او تعليم د پيغمبرانو له اهدافو څخه يو هدف دي «يتلوا عليهم اياته ويزکيهم و يعلمهم الکتاب والحکمة».

کله چې مسجد د تزکيې او طهارت له غوره ځايونو څخه دى نو تعليم او تعلم هيڅکله هم له جومات څخه نشي جلاکېدلاى، نو له همدې امله د رسول الله په وخت کې او له هغه څخه په راوروسته زمانه کې هم جومات د تزکيې تعليم او تعلم له ډېر وغوره ځايونو څخه ګڼل کېږي. په او سنى عصر کې هم د اسلامى نړۍ په ځينو ملکونو کې داسې جوماتونه موندل کېږي.

لکه څرنګه چې په پوهنتونونو او پوهنځيو کې د درس او تعليم لپاره منفونه شته، همدارنګه په جوماتونو کې هم د درس اوتدريس لپاره ځانګړي ځايونه شته.

که د اسلامي هېوادونو ترمنځ هر څومره اختلافات شته، وی بیا هم د جوماتونو د جوړولو او قایمولو پر کار کې د مسلمینو یوه د نظر یو والی لیدل کېږي.

په اسلام کې نړیوالې دا چې تعلیم او تزکیه سره بېل نه دي، بلکه د دواړو سرچینه یوه ده.

په څو تېرو کلونو کې د اسلامي نړۍ د جوماتونو او پوهنتونونو ترمنځ د اړیکو د شتون والي په نتیجه کې د علم او فضیلت په لحاظ د پېر غوره علماء اسلامي ټولنې ته وړاندې شول. په پیل کې استعمار د عصري علومو او دیني علومو ترمنځ د بېلتون په رامنځته کولو سره له مسیحیت څخه خپله اما جګاه جوړه کړه، او بیا یې د خپلو شیطاني ګوزارونو مسیر د اسلام پر خوا راواړوو.

استعمار د جوماتونو (د تزکیې ځای) او د پوهنتون (د تعلیم ځای) ترمنځ د بېلتون د بوال ودراوه، چې په دې توګه مسجد ته د تلونکو او پوهنتون ته د تلونکو ترمنځ د لوړتیا او ټیټوالي احساس راپیدا شو او دواړو خواو یو بل ته د حقارت په سترګه سره کتل.

استعمار یوازې په دې باندې بسنه ونه کړه بلکه د دین او سیاست ترمنځ یې هم د دېوال ودراوه او په دې توګه استعمار کوښښ وکړ چې اسلامي اُمت له خپل دین، مذهب، کلتور او ثقافت څخه بیګانه کړي او د خپل استعماري راج لپاره میدان هوار کړي.

زمونږ د معاصرو اسلامي نهضتونو او خوځښتونو په بستر ویاړ دادی چې د غرګند دې استعماري توطئې او د سیسې په رسوا کړې او د همیشه له پاره ئې د هغو د توحید او وحدت له پاره کار پیل کړ.

نن په اسلامي نړۍ کې مسجدونه او پوهنتونونه د اسلامي فرهنګ د ترویج او خپرولو لپاره ستر مرکزونه دي، د اسلامي اُمت د وحدت او یووالي پوخ بنسټ را مینځته شو چې تر اسلامي عظمت ته د مسلمینو د رسیدو په لاره کې ترټولو ضروري او مهم کار دی.

جومات د ټولنیز تحریک د محور په توګه:

ځینې خلک جومات له سیاسي او ټولنیزو امورو ځنې لیرې بیلوي او یوازې د عبادت ځای بولي، چې دا ډول تصور د جوماتونو په هکله یوازې او یوازې پر مسیحیت باندې حاکم دی او اسلام کې د داسې تصور ځای نشته.

د اسلام دښمنان یوازې په همدې مهلکه ضربه اکتفاء نه کوي بلکه په اسلامي ټولنو کې په دې تبلیغ هم لګیا دي چې اوس د عبادت ځایونو ته تګ د مرتجعینو کار دی او په او سنۍ متمدنه زمانه کې باید له دې کار څخه ممانعت وشي، (توبه نعوذ بالله)

د مسجد اړیکې ترعبادت او هر هغه شي ته مینځ ته راځي دی چې په الله تعالیٰ پورې تعلق لري، مګر شرط دادی هر هغه

عمل چې په جومات کې ترسره کېږي، ولو که سیاسي، فرهنګي اقتصادي او یا ټولنیزوي باید د خدای (ج) له پاره او د خدای د حکم تر سیوري لاندې وي. د قرآن مجید دوه لاندې آیاتونه د رهبانیت او مسخ شوي مسیحیت د نظر ذکر شوي نقطې ردوي:

«ورهبانیة ابتدعوها ما کتبناها علیهم» (سورة حدید)

«وقالوا ما هی الا حیاتنا الدنیا نموت ونحیا وما یهلکنا الا الدهر» (سورة جاثیه ۲۴ آیت)

د پیغمبر اکرم (ص) په وخت کې جومات د سیاست، فرهنګ، ثقافت، اجتماعیت او نورو اسلامي امورو مرکز ؤ. د مشرکینو او کفارو پر ضد د جهاد ټول پلانونه په جومات کې طرح کېدل او د اسلام ټول پر وګرامونه په جومات کې جوړېدل او بیا عملي کېدل. د سیاسي، فرهنګي او ټولنیزو امورو په باب به د قرآن کریم ایاتونه تلاوت کېدل. جومات د ټولو سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او دفاعي فعالیتونو مرکز ؤ او دې رواج د پیغمبر تر رحلت پورې دوام درلود. د پیغمبر له رحلت څخه وروسته د غه سنت خلفاؤ راشدینو ژوندی وساته چې تر اوسه پورې هم ژوندی دی.

خو اوس مهال استعماري او طاغوتي ځواکونو د دین او سیاست د بېلتون له پاره ډېرې زیات کوښښونه وکړل په نتیجه کې د یو شمېر مذهبي علماؤ نظر په جومات کې یوازې او یوازې د عبادت پر لور ی وګرځېدو.

Jehad Palwashah Monthly

Editor : Esmat Qani

Published By :

Southwest Provinces of Afghanistan

G.P.O. Box 345 Peshawar, Pakistan

دجهاد پلوشه

د امتياز خاوند
افغانستان د اسلامي
جمعيت د جنوب غربي ولاياتو
فرهنگي شورا

مسئول مدير
عصمت قانع

پستي ادرس
پيښور پاکستان
پست بکس نمبر ۳۴۵

Jehad Palwashah Monthly

Vol. 1 No. 2 - 3